# د ثالث عمر (رح) د طبيعي علومو څیړنیز ژورنال کی د مقالو د خپرولو ، رد او تایید لارښود ( خپل عنوان دلته ولیکی)

لومړی لیکوال[1*]، دویم لیکوال[2]، درېم لیکوال[3]

بیولوژي څانگه، ښووني روزنې پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون - زابل

د مسؤل ایمیل آدرس: xxxxx@gmail.com

دا لارښود د ثالث عمر (رح) د طبيعي علومو څېړنيز ژورنال کې د مقالې د نشر لپاره تهيه شوی دی او تاسو ته د مقالې د فارمټ او ليکنې په هکله ټول معلومات پکښې وړاندې شوي دي. په دې مجله کې مقالې ښايي چې دوه ډوله وي. لومړی ډول مقالې څېړنيزې مقالې دي. څېړنيزې مقالې بايد لړ تر لړه دا عنوانونه ولري: لنډيز، سريزه، مواد او کړنلاره، نتيجه او مناقشه، پايله،وړانديزونه او مأخذونه. دوهم ډول مروري مقالې دي چې Review هم ورته ويل کيږي. دا ډول مقالې دا عمده عنوانونه لري (لنډيز، سريزه، اصلي محتوا چې ښايي نور فرعي عنوانونه هم ولري، پايله او مأخذونه( چې تر ۱۵کم نه وي ). د ليکنې صفحه بايد A4 وي او ورپسې د صفحې حاشيې (Margins) په دې توگه په انچ يا سانتي متر سره وټاکئ: پاس حاشيه (Top=1.3 in = 3.30 cm)، ښکتنی حاشيه (Bottom = 1.5 in = 3.81 cm)، د ښی خوا حاشيه (Right = 1.5 in = 3.81 cm) او کيڼ لوري حاشيه (Left=1 in = 2.54 cm). د پښتو او دری ژبو د مقالو لپاره بايد (bahij zar) او د انگليسی ژبی لپاره Times New Roman له فونټ څخه گټه پورته شي. د مقالې د اصلي متن لپاره که په پښتو، دري او انگليسی ژبه وي د فونټ سايز ۱۲ انتخاب کړئ خو يوازې د لنډيز د ليکلو لپاره بايد د فونټ سايز ۱۱ (پښتو او دری) او انگليسی ۱۲ وي. د خطونو (کرښو) ترمنځ فاصله1.5 غوره کړئ او د پاراگرافونو ترمنځ د 6 pt څخه کار واخلئ. د مقالې هر عمده عنوان (لنډيز، سريزه، مواد او کړنلاره، نتيجه او مناقشه، پايلې، وړانديزونه، مأخذونه او په پای کې لنډيز په انگليسي ژبه يا Abstract) بولډ او ۱۴ فونټ سايز کې بايد ترتيب شي او د صفحې په مرکز کې بايد وليکل شي. فرعي عنوانونه بايد۱۲ فونټ او بولډ شي او د صفحې په ښې لوري کې قرار ولري. د مقالې اصلي عنوان بايد ۱۶ سايز او بولډ شي. د مقالې تر اصلي عنوان لاندې د مؤلفينو نومونه بايد د سهم په ترتيب سره د ۱، ۲ او ۳ شمارو په ذکر کولو سره وښودل شي او مسؤل مؤلف ته د ستوري نښه ورکړل شي. لازمه ده چې د رسمي آدرس په ذکر کولو يوازې د مسؤل مؤلف ايميل آدرس ذکر شي. د مؤلفينو د فونټ سايز بايد ۱۲ وي خو رسمي ادرس يې په ۱۰ فونټ کې وليکل شي..کليدي کلمې بايد د ۵ -۷ ترمنځ وي. مأخذونه بايد د امريکا د روانشناسی د ټولنې (APA) د فارمټ مطابق هم په متن کې درج او هم په پای کې وليکل شي. د مقالې لنډيز بايد تر ۲۵۰کلمو ډېر نه وي.

## د مقالې عنوان ( Title )

د يوې څېړنيزې مقالې عنوان بايد د لاندې ځانگړتياوو درلودونکی وي.

- په اصلي موضوعاتو/ متغيرونو باندې مشتمل وي.
- د څېړنې د اهميت ښودونکی وي.

- جامع او جذاب وي.
- واضح او قابل فهم وي.
- مشخص او مختصر وي ( د کلیماتو شمیر به یې د ۱۵ څخه زیات نه وي).
- گونگ، فورمولي او د تجارتي کلیماتو څخه باید پاک وي.
- عمومي د مقالې عنوان باید۱٦ بولډ وي او نور عنوانونه ۱۴ بولډ او ټول فرعي عنوانونه په مقاله کې ۱۲ بولډ لیکل کیږي. د کرښو ترمنځ فاصله باید ۱،۱۵ انچ وي.

## لنډیز ( Abstract )

د مقالې لنډیز د عنوان او د لیکوال(لیکوالانو) د پیژندگلوی څخه وروسته لیکل کیږي، د صفحې په منځنۍ برخه کې د شمارې څخه پرته د ۲۰۰ څخه تر ۲۵۰ کلیمو په اندازه ترتیب کیږي، او په لاندې مواردو به مشتمل وي.

- د څیړنې د طرحې، اهمیت او هدف معرفي کوونکی وي.
- داستعمال شوې کړنلارې ، اصل پایلې او اصل نتیجه گیرئ مختصر ذکر ولري.
- د یادونې وړ ده، چې د لنډیز متن باید د ټولې مقالې د بشپړ کېدو څخه وروسته چمتو شي.
- په لنډیز کې باید تېره زمانه وکارول شي.

## کلیدي کلیمې ( Keywords )

د مقالې کلیدي کلیمې باید لاندې ځانگړنې ولري:

- د کلیدي کلیمو ترتیب باید د الفباء تورو په اساس وي.
- غوره به وي که د ۵ څخه تر ۷ پورې کلیدي کلیمې شتون ولري.

## سریزه

په دې برخه کې د خپلې موضوع اهمیت، د ستونزې بیان او د خپلې څیړنې فرضیې او موخې ولیکئ. همدا ډول په دې برخه کې د څیړنې اهمیت په عمل کې بیان کړئ او د ۱ څخه تر ۲ صفحو پورې وی.

## مواد او کړنلاره

### الف. د څېړنې ځای او وخت

ستاسو څېړنه په کوم ځای کې او څه وخت او د څومره مودې لپاره په کار واچول شوه؟

### ب. د څېړنې ډیزاین

د څېړنې ډيزاين څه ډول وو او دا چې ولې انتخاب شو لکه نمونی او اندازه يی، د تجزيې طريقه، د معلوماتو د راټولولو طريقه او همدا راز د څېړنې د ترسره کولو طريقه په واضح او روښانه توګه وي په دې برخه کې شامل دي.

**ج. مواد**

په دې برخه کې په څېړنه کې استعمال شوي مواد (لومړنی او دوهمی) او وسايل ذکر کيږي.

**د. احصائيوي تحليل**

د خپلې څېړنې تحليل که هر ډول وي په دې برخه کې ځای پر ځای کړئ.

## نتيجه او مناقشه

د خپلې څېړنې نتيجې په دې برخه کې په داسې ډول شرحه کړئ چې جدول عنوان بايد د جدول پر سر وي

او د فونټ سايز يې ۹ او يا هم ۱۰ وي خو که چيرې له ګراف او يا کوم تصوير څخه ګټه اخيستل شوې وي نو بايد چې تر تصوير، يا ګراف او يا هم شکل لاندې يې شرحه وليکل شي او د فونټ سايز يې هم ۹ او يا ۱۰ وي. په دې برخه کې د خپلې څېړنې لاسته راوړنې توضيح کړی، د خپلې څېړنې محدوديتونه وليکئ او د راتلونکې لپاره کوم وړانديز لرئ.

## پایله او سپارښتنې

د خپلې څېړنې عمده پايلې وليکئ او د هغې پربنسټ کومې سپارښتنې چې لرئ دلته ځای پر ځای کړئ. پدی برخه کی د څېړنی پايله / نتيجه ګيری په لنډ ډول سره په يو صفحه کی د متن يا شميرو په ډول سره ليکل کيږی

## اخځليکونه

خپل مأخذونه په APA ستايل سره د الفبا حروفو په ترتيب سره وليکئ.

**(اخځليکونه بايد له ۱۵ کم نه وي)**

**د APA ستايل ماخذ ليکلو نمونه**



د مقالې په پای کې دلته د مقالې لنډيز يا Abstract په انگليسي ژبه وليکئ، په ترتيب د مقالې عنوان، د ليکوالو نومونه، Abstract او بنسټيزې کليمې په انگليسي ژبه وليکل شي. او که علمی مقاله په انگليسی ژبه ليکل سوی وه بيا نو د مقالی لنډيز بايد په پښتو يا دری ژبه دلته وليکلی.

**د جدول په هکله معلومات**

جدول بايد شماره ولري او په متن کې ورته اشاره شوې وي چې ارجاع ورته ويل کيږي يوه بيلگه يې دلته وړاندې کوو:

په افغانستان کې د ښوونځيو کې د بېوزله کسانو فيصدي ورځ تر بلې د زياتوالي په حال کې ده چې په ۱ – جدول کې ښودل شوې ده.

۱ – جدول. د تيرو پنځو کلونو په ترځ کې په افغانستان کې د بېوزلی کچه.


| کال | د ټولنو د ډول په تفکيک سره د بې وزلی کچه (٪) | | |
|---|---|---|---|
| | کليوالي ټولنې | نيمه کليوالي ټولنې | ښاري ټولنې |
| ۱۳۹۵ | ۴۵ | ۳۵ | ۳۰ |
| ۱۳۹٦ | ۵۵ | ۴۵ | ۳۵ |
| ۱۳۹۷ | ٦۰ | ۵۰ | ۴۰ |
| ۱۳۹۸ | ٦۵ | ۵۵ | ۴۵ |
| ۱۳۹۹ | ۷۰ | ٦۰ | ۵۰ |

منبع: د افغانستان د احصاييوي معلوماتو اداره (۱۳۹۹ کال راپور)

د شکل په هکله معلومات

هر شکل (گراف، تصوير او نور ډولونه) بايد د جدول په شان شماره ولري او بل دا چې په متن کې ورته اشاره شوې وي. د بيلگې په توگه دلته يو مثال وړاندې کوو:


د ملي احصاييې د مرکزي دفتر د ۱۳۹۹ کال د راپور پر بنسټ په تيرو پنځو کلونو کې د بې وزلی کچه ورځ تر بلې د زياتېدو په حال کې ده (۱ – شکل).




۱ – شکل. په تېره پنځه کلنه دوره کې د افغانستان په کليوالي ټولنو کې د بېوزلی د کچې روند (مرکزي احصائيه، ۱۳۹۹).

د خپلې مقالې صفحې تنظيم په لاندې ډول برابر کړئ يعنې:

پورتنۍ حاشيه: ۱,۳ انچه   ښکتنۍ حاشيه: ۱,۵ انچه   ښی حاشيه: ۱,۵ انچه   کينه حاشيه: ۱ انچ




ورپسې د متن د فونټ د ډول، د فونټ د سایز، په صفحه کې د موقعیت لپاره هغه لارښوونې په پام کې ونیسی چې په لاندې جدول کې وړاندې شوې دي:

| د مقالې برخه | د فونټ ډول: په پښتو ژبه کې | د فونټ ډول: په دري ژبه کې | د فونټ سایز | د فونټ ضخامت: Light | د فونټ ضخامت: Bold | په صفحه کې تنظیم: ښی خوا | په صفحه کې تنظیم: مرکز | په صفحه کې تنظیم: Justify | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د مقالې اصلي عنوان | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٦ | | √ | | √ | | |
| د مؤلف یا مؤلفینو نوم | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٢ | √ | | | √ | | |
| د مؤلف یا مؤلفینو رسمي پته | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٠ | √ | | | √ | | |
| د لنډیز عنوان | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۴ | | √ | | √ | | |
| د لنډیز متن | Bahij Zar | Bahij Zar | ١١ | √ | | | | √ | |
| سریزه | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۴ | | √ | | √ | | |
| د سریزې متن | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٢ | √ | | | | √ | |
| مواد او کړنلاره | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۴ | | √ | | √ | | |
| د مواد او کړنلارې فرعي عنوانونه | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٢ | √ | | | | | |
| د مواد او کړنلارې متن | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٢ | √ | | | | √ | |
| نتیجه او مناقشه | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۴ | | √ | | √ | | |
| د نتیجې او مناقشیه فرعي عناوین | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٢ | | | | | | |
| نتیجه او مناقشه متن | Bahij Zar | Bahij Zar | ١٢ | √ | | | | √ | |
| نتیجه ګیري | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۴ | | √ | | √ | | |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د نتیجه گیری متن | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۲ | √ | | | | √ | |
| سپارښتنې | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۴ | | √ | | √ | | |
| د سپارښتنو متن | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۲ | √ | | | | √ | |
| مأخذونه | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۴ | | √ | | √ | | |
| د مأخذونو متن | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۲ | √ | | | | √ | |
| د جدول عنوان | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۰ | √ | | | | | |
| د شکل عنوان | Bahij Zar | Bahij Zar | ۱۰ | √ | | | | | |

## د علمي مقالو د ترلاسه کولو طریقه او طرزالعمل

د د ثالث عمر علومو څیړنیز ژورنال ، ۱۴۰۳ ل کال، لومړی گڼه ( Scientific-Research Journal of Natural Sciences (Salis Omar ( RA ) د علمي څېړنو او کتابتوني څیړنو اړوند مقالې (د مختلفو برخو د متخصصـــصـــینو او لوړ رتبه اســتادانو څخه د لیکني د هئیت تر نظر لاندي) چي د ســاینسي-علومو (کرهنه، او ښـوونه او روزنه اړوند څانگو لکه فزیك، کیمیا، ریاضـــی، بیولوژی او نورو ) په برخه کي خپروي. مقاله باید په هیڅ مجله یا ژورنال کي مخکي نه وي خپره شوې او یا هم بل ژورنال ته په عین وخت کې د خپرولو لپاره نه وي لېږل شوې. د علمي مقالو د نشر دوران شپږ میاشتنی دي او د نشر ژبه پښتو، دري، او انگلیسي ده، په مقاله کي د لیکل شوو علمي مطالبو د حقیقت مسوولیت په لومړی درجه کي د اصـلي لیکونکي (Corresponding Author) او په دوهمه درجه کي د نورو لیکونکو په غاړه دی. د مجلې د لیکني هئیت د مجلې د ضوابطو مطابق د مقالو د منلو او یا ردولو اختیار لري. هره علمي مقاله چي د نشر لپاره د ثالث عمر (رح) د ســاینسي-علومو څیړنیز ژورنال ته لیږي باید د څانگې، پوهنځي او څیړنیز مرکز په غونډو کی تائید شوی وي او پروتوکول لرونکې وي او همدا راز د پوهنځي څخه رسمي مکتوب ولري. مقالې باید په سافت MS Word کي چمتو او وروســته د نشرــ لپاره salisomarzabuluniversity@gmail.com ایمیل ادرس ته ولیږل شي. د مقالې د فایل نوم باید په انگلیسي- تورو او د لیکونکو په نوم وي. د ژورنال لپاره د علمي مقالو د بیاکتني او اصـلاح د داسي یو پروســې یا میکانیزم څخه کار اخیســتل کیږي چي کتونکې او لیکوال دواړه ددې پروســې په اوږدو کي نامعلوم پاتي شي.کله چي مقاله رسما د علمي مجلې بورډ/مدیریت ته ولېږل شي. د مقالې د تر لاسه کولو اطمینان و اصلي لیکونکي ته د ایمیل د لاری ورکول کیږي او وروســته د مجلې بورډ علمي مقاله د اړوند څانگې لیکنې هیت ته د اصـلاح او کتنې په موخه لیږي، کچیرې د لیکنې هیت د مقالې په تخنیکي برخه کی ملاحظات درلودل، د مجلې بورډ یې لیکوال ته د اصـــلاح په موخه لیږي او وخت ورته ټاکي، لیکوال مکلف دی چي پر ټاکلي وخت په خپل مقاله کی د اړتیا وړ ا صلاحات راولي او ورو سته یی بورډ ته د ایمیل له لاری ولیږی.کله چي مقالی د نشر لپاره تائید سوی، د ټولو علمی مقالو ټولگه د مجلې په ډول چاپ کیږي، لیکوال ته یوه علمي مجله، مقاله په ســـافټ کی او یو سرټیفکیټ ورکول کیږي. د مقالې حجم او د کلمو شمېر چي ددې لارښود مطابق ترتیب کیږي باید تر ۵۰۰۰-۶۰۰۰کلیمو ترمینځ وي.

**د څېړنو او علمي مجلې آمریت** **د علمي چارو معاونیت**